# د وزیر محمد ګل خان مومند
# ”د پښتو ژبې لیار“ پېژندګلو او تحقیقي کتنه

“Introduction, analytical Studies of the Da Pakhtu Zhuby Liyer”
Wazir Gul Mohmand

Aziz-u-llah Jabar khil*

**ABSTRACT:**

Pashto Language especially grammar erectly depends on the book “Da Pukhto Jaby Leyar” written by wazir Muhammad Gul khan Momad consisted of 510 pages and was published in 1938 under the auspices of Abdul Azeem Saprin Lahore. This book is rightly called the first ever complete book on Pashto grammar, had not been produced befit if produced those are either in Persian pursuers English. In thus book all aspects of Pashto grammar have been discussed. This book also possesses a very informative preface which impressed every Pashtun. This book is very valuable as for as research in Pashto grammar is concerned one of the unique of thas book that it contains 1566 Pashto Masdars.

وزیر محمد ګل خان د ټولو رسمي مشغولتیاؤ سره سره خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) ته د خدمت په لاره کښې ټول عمر کار کړے دے. د قاموس لیکنې په ډګر کښې ئې که ”پښتو سیند“ ولیکه. د ګرامر لیکنې په مېدان کښې د ”پښتو ژبې لیار“ په لیکلو ورته په پښتو کښې د لومړني پښتو ګرامر لیکونکي اعزاز هم حاصل شوے دے. ”د پښتو ژبې لیار“ کتاب په (۵۱۰)

* PhD Scholar Pashto Department University of Peshawar

مخونو کښې په ۱۳۱۷هـ ل (۱۹۳۸ء) کال په بلخ کښې ليکل شوے او په لاهور کښې د عبدالعظيم ساپي په اهتمام چاپ شوے دے . کتاب په پيل کښې يوه پخه سريزه لري چې د ژبې په باب مغمو ټکو ته په کښې نغوته (اشاره) شوې ده . چې په يوه برخه کښې ئې داسې راغلي دي:

''هر څۀ ، چې وي د ملت سعادت ، سلامت ، عافيت ، راحت ، عزت ، ملي شته والے ، هر ډول لوړ والے ، د ملي شئوناتو پاينه ، د وطن ساتنه ، په عزت او هوساينې سره ژوندون ، په عزت سره مړينه او د نړۍ څخه په ښۀ نامه سره تګ او نور ، ټول ملي يو والي پورې ، مليته پورې او هغه هم ملي ژبې پورې ئې اړه لري . لکه چې پاس ووئيل شو که ژبې خلل مينده کړ ، دغه ټول خلل مينده کوي او که محوه شوه ټول محوه کېږي او ود ملت نوم او نخښه د نړۍ د مخ څخه ورکېږي . ژبه هر څومره چې بشپړه وي دغه خصوصيات هم هماغومره بشپړ او تر امنيت لاندې وي . لنډ ئې دغه ده چې ژبه د ملي موجوديت ، هوساتوب او سعادت ، د لوړ والي او جګ والي ستنه ده . نو ژبه بايد وساتله شي ، و پالله شي ، ورروزله شي ، هارته کړله شي ، علمي شي ادبي شي ، په هر حېث سره د ملت درستو اړينو او احتياجاتو ته کافي شي[۱] ''

سريزه ئې د مدخل ''ننه توځۀ ی'' په عنوان او بسم الله پېل کېږي چې د (الف) نه تر (ې) پورې مخونه لري . د شکل له مخې کتاب په نستعليق رسم الخط ليکل شوے دے . کتاب درې برخې لري . لومړۍ برخه ئې پښتو صرف ته ورکړل شوې چې له (۱) مخ نه تر (۳۱۵) مخ پورې رسېږي . دويمه برخه ئې نحوې ته مشخصه شوې چې نحوي مسائل په کښې راغلي او له (۳۱۵) مخ نه تر (۳۳۹) مخ پورې رسېږي . دريمه برخه ئې مصادر دي چې په ځانګړې

شمارې سره له (۱) مخ نه تر (۱۵۲) مخ پورې رسېږي او ټول مصدرونه په کښې ۱۵۲۲) ته رسېږي ـ

په پښتو ژبه کښې دا اثر لومړنے په پښتو ژبه ليکل شوے ګرامر دے چې له دې نه وړاندې په پښتو ژبه کښې داسې مکمل ګرامر چا نۀ دے لکلے ـ که چېرې ليکل شوے هم وي هغه به په اردو ، انګرېزي او فارسي ژبو ليکل شوي وي ـ چې په دغه ګرامرونو کښې د پښتو ژبې د غږ پوهنې ، مورفولوژي او محوې په اړه مربوط موضوعات ، هغه که د پښتو ژبې الفبا برخه ده او که د کلمو او معنادارو الفاظو برخه ، د جملو د جوړښت او اوډون برخه ده او که د ترکيبونو او اشتقاقونو د رغښت ، په دغو دريو يادو شويو ژبو تشريح شوي دي ـ

د مخه تر دې چې ''د پښو ژبې ليار'' پښتو ګرامر په جوړښت او په هغه په راغليو موضوعاتو باندې بحث وشي ـ د پښتو ژبې په اړه د ليکل شويو ګرامرونو لنډ جاج څۀ په دا ډول دے :-

''د پښتو دقواعدو د ليکلو اغاز د فارسۍ نه کېږي ـ محبت خان روهيله په ۱۸۰۲ء کښې د ''رياض المحبت'' په نوم د پښتو د افعالو څنې قواعد په دغه کتاب کښې وليکل چې اصل کښې د پښتو ، فارسۍ يوه ډکشنري وه ـ دا يو پښتون ليکلې وه چې د پښتو ' فارسۍ او اردو ژبو صاحب ديوان شاعر هم ؤ ـ خو دا کتاب تر اوسه قلمي پروت دی ـ په ۱۸۲۷ء کښې د يو بل پښتون محمداسماعيل له خوا يو ګټور کتاب ''قواعد افغاني '' په پېښور کښې شائع شو ـ دا يو خالص علمي ګرامر دے چې په فارسۍ کښې ليکلے دے ـ د محمد اعظم ايازي ''قواعد پشتو'' په ۱۹۳۹ء په فارسۍ کښې چا پشو ـ د پښتو ژبې نور ګرامرونه هم وخت په وخت په فارسۍ کښې ليکل شوي ، چې د هغو له جملې نه د ارواښاد پوهاند صديق الله رښتين ګرامر د يادونې وړ دے ، چې په وروستيو وختو کښې د ښاغلي سر محقق ډاکټر سيد محي الدين هاشمي له خوا په پښتو ژبه ژباړل شوے او چاپ شوے دے ـ

په اردو کښې هم د پښتو ژبې په باب ګرامرونه ليکل شوي دي چې زياتره په کښې د پښتو ژبې د زده کړې په غرض ليکل شوي. د ښاغلي ميراحمد شاه رضواني ''پښتو ګرامر'' (۱۸۹۰ء) يو داسې کتاب دے چې د زده کړې مقصد تر څنګ د يو جدا علمي کتاب حېثيت هم لري.

په انګرېزۍ کښې د پښتو ژبې د ګرامر ليکنې پېل له ۱۲۲۵ش (۱۸۵۴ء) کال نه کېږي. کله چې مېجر واهن (Vaughn) يو مکمل ګرامر په کتابي شکل کښې چاپ کړو چې دوهمه برخه ئې د پښتو انګرېزۍ لغت ؤ.

په (۱۸۵۵ء) کښې مېجر راورټي ډېر مشهور ګرامر اول ايډيشن شائع شو. ورپسې د ډاکټر بيليو پښتو ګرامر په انګرېزۍ کښې راښکاره شو.

په ۱۸۷۳ء کښې د ټرمپ انګرېزي ګرامر د پښتو چاپ شو. دۀ دغه ګرامر په جرمني ژبه کښې هم ليکلے او په يوه رساله کښې ئې شائع کړے ؤ. ډورن په ۱۸۴۰ء په جرمني ژبي کښې يو وړوکے ګرامر د پښتو په کتابي صورت کښې شائع کړے ؤ چې اولين يوروپي ګرامر ورته وئيلے شو. په انګرېزۍ کښې ډېر ګرامرونه د پښتو ژبې په باب ليکل شوي دي. په افغانستان کښې د ګرامر ليکنې په اړه ارزښتمن کار شوے دے.

په دې باب د پښتو مرکې، کندهار پښتو ادبي انجمن، په کابل کښې پښتو ټولنې (پښتو اکاډيمي) زيار د يادونې وړ دے. د بېلګې په توګه د ځينو ګرامرونو نومونه په دې ډول دي:

قاعدۀ افغاني، ګل احمد، د پوهنې وزارت، کابل، ۱۲۹۹ش / ۱۹۱۰ء کال

پښتو پښويه (صرف و نحو پښتو) پښتو مرکه، کابل ۱۳۰۲ش / ۱۹۲۴ع کال

له معرفة الافغاني (۱۷۸۲ء) نه تر ''پښتو کلي ---- پورې نور ټول کتابونه داسې نوعيت لري[۲]''

د پښتو ادب ځلانده ستورے ارواښاد پوهاند صديق الله رښتين صاحب ''د پښتو ژبې ليار'' په اړه داسې وائي:

" د پښتو ژبې د علیم بنسټ ټینګولو دپاره دده بل لوے علمي خدمت " د پښتو ژبې لیار" ده ۔"د پښتو لیار" د پښتو ژبې یو لوے ګرامر دے چې په پښتو ژبه لیکل شوے او په ۱۳۱۷ش / (۱۹۴۸ء) کال په لاهور کښې د عبدالعظیم ساپي په اهتمام چاپ شوے دے ۔" د پښتو ژبې لیار" یوه ډېره خوږه په زړۀ پورې سریزه هم لري چې د هر پښتون زړۀ وربانـدې خوږېږي ، په دې ګرامرکښې داسې ډېرې نورې څېړنې راغلې دي چې پخوا ګرامرونوکښې نشته ۔په اخر کښې د مصدرونو یو کامل فهرست هم لري[۳] "

د پوهاند صاحب پورتنے نظر " د پښتو ژبې لیار" د ارزښت لپاره څرګند ثبوت دے ۔د پښتو ژبې او ادب بل واقعي خادم استاد قیام الدین خادم ددې اثر په باب وائي :-

" ده په خپل " سیند" او "لیار" کښې د پورته مسائلو دپاره پوره کوشش کړے دے ۔"لیار" چې دے ئې د صرف و نحو یا ګرامر په معنې قبلوي ، په دې مناسبت چې "لیار" د قاعدې او قانون په معنٰی د پښتو په محاوره کښې مستعمله ده[۴] "

د پښتو سیند د تمهید په یوه برخه کښې مومند بابا د ژبې د قواعدو ثبت او د ګرامر د لیکنې اهمیت دا رنګ بیانوي :

" ژبه د کلمو څخه مرکبه ده او کلمې هم د ژبې د قواعدو په موجب تصرف او ترکیببږي ۔ادیبان باید کوښښ وکړي چې د خپلې ژبې کلمات قېد او صرفیه او نحویه قواعد ئې ضبط کي[۵] "

مومند بابا چې په واقعي معنا د پښتو ژبې خدمت ته بډې راوهلې وې او د مرګ تر ساعته ئې دې خدمت ته دوام ورکړے ؤ ۔سید صابر شاه صابر ئې په دا ډول یادونه کوي :

'' نومړے د شلمې پېړۍ د پښتو د مخکښانو او بنيادګرو د صف امام ياديږي ، محترم په تن تها ځان پښتو لپاره دومره قوي او بنيادي کارونه کړي دي چې غونډې غونډې ادارې ئې منت بارې دي [۶] ''

اکاډميسن پوهاند عبدالشکور رشاد هم د مومند بابا قلمي خدمت د پښتو ژبې او ادب په باب منلے وائي :

'' دۀ په فرهنګي برخه کښې د قام ژبې ( پښتو ) ته توجه وکړله ـ .. په خپله ئې قلم راواخست ، پښتو سيند ( ۱۳۱۲ل چاپ ) ئې وليکه ـ د مفکر محمد ګل خان بله مؤلفه د پښتو ژبې ليار ( ۱۳۱۷ل چاپ ) نوميږي [۷] ''

د ګرامر لمړۍ برخه کښې د پښتو صرف پېژندګلوي شوې ده ، د توري ( څپه ) تعريف له مثالونو سره راغلے او ډولونه ئې هم له بېلګو سره بيان شوي دي ـ ورپسې د ( توره ی ) حرف تر عنوان لاندې د الفبې بيان راغلے ـ پښتو ژبه کښې د عربي خاص توري ، د پښتو ژبې ټول توري په کښې راغلي دي ـ

( ټ ) په ( ن ) ، ( ډ ) په ( د ) ، ( ړ ) په ( ر ) ، ( ڼ ) په ( ن ) ډول ښودل شوي ـ د ( واو ) او دے ، د ډولونو بيان ئې کړے ، دغه راز ئې پښتو کښې توري د څنګه والي په اعتبار سره په دوو برخو مذکر او مؤنث ويشلي چې مذکر توري ئې :

ج ، د ، ډ ، ر ، س ، ش ، غ ، ک ، ګ ، ل ، م ، ن ، ڼ ، ( نړ ) ، و ، ذ ، ص ، ض ، ع ، ق او مؤنث توري ئې : ب ، پ ، ت ، ټ ( ن ) چ ، څ ، ځ ، خ ، د ، ړ ( ر ) ، ز ، ژ ، ږ ، ښ ، هـ ، ی ، ث ، ح ، ط ، ظ ، ف ښودلي دي ـ

هغه توري چې جلا ليکل کيږي :- ( ا ، د ، ډ ، ر ، ز ، ژ ، ږ ، و ، ذ ) او هغه توري چې سره جلا او بېل نه ليکل کېږي او سره يو ځائے ليکل کېږي ـ له پورتنيو تورو پرته نور ټول توري په کښې راځي ـ

له دې وروسته د تورو ډولونه ( د اوازونو ډولونه ) د وتونځو ( مخرج ) په لحاظ سره بېل شوي دي ـ چې په هغه کښې ئې سره نږدې توري ، سره لرې توري ، د

شونډو توري ، ګړندي توري ، د ستوني ستوري ، سره ورته توري ، بیان شوي دي .
د خوه ځندے (حرکات) په اړه ئې پښتو کښې څلور حرکات (زور ، زیر ، پېښ ، زورکے) چې زورکے ئې (خو ځکه ے) نوموليے دے .
ورپيسې د ساکن تورو بيان راغلے دے . بيا ئې د (ضوابط) تر عنوان لاندې په عربي ژبه کښې له حرکاتو پرته د ضوابطو بيان (شده ، مده ، وصل ، قطع ... ) په راوړلو سره ښودلے دے .
ورپسې د : خج ، د تورو وتوځے ، د پښتو د ليک ډول ، ګړه ، بيان راغلے دے . په (۳۰) مخ کښې ئې تر (لمړۍ ځانګه) لاندې د اسم بيان کړے دے ، چې نوم ئې په څلورو برخو (مطلق اسم ، صفت ، کنايات ، مصدر) بېل کړے دے .
په لومړي څپرکي کښې د مطلق اسم بيان راغلے دے . دغه راز په کښې د اسماؤ احوال تر عنوان لاندې د اسماؤ اتۀ حالته بيان شوي دي . (۱) مجرد (۲) معفول به (۳) مفعول اليه (۴) فعول فيه (۵) فعول منه (۶) مفعول له (۷) معفول معه (۸) مضا اليه . ورپسې د زمان اسم ، مکان اسم ، د تصغير اسم ، الې اسم ، منسوب اسم ، صوت اسم بيان راغلے دے . په دويم خبرکي کښې د کتاب په ۸۴ مخ کښې د صفت بيان راغلے دے .
صفت ئې په (سماعي) او (قياسي) ښودلي ، سماعي ئې بيا په دوه ډوله (وصفيه الفاظ) او (د اعدادو اسمونه) ښودلي چې دا بحث ئې په مفصل ډول تشريح کړے دے .
په دريم څبرکي کښې د (کنايات) تر سرليک لاندې د دريو کنايو : ضمير ، د اشارې اسم ، مبهمات بحث راغلے دے . د ضمير په برخه کښې : (شخصي ، نسبتي ، فعلي ضميرونو) بيان راغلے دے . په (۱۲۹) مخ کښې د اشارې اسم بيان راغلے دے . اشاري ضميرونو ته اشاري اسم وئيل شوے دے . د مبهمات تر سرليک لاندې لومړے مبهمات تعريف شوے او درې مبهمات (مجرد اسم ، اسفهاميه کلمات ، موصول اسم) په کښې روښانه شوي دي .

په څلورم څپرکي کښې د څېړنده (مصدر) بحث راغلے دے .د مصادرو په موضوع کښې ئې د (ل، ول ، ېدل) دريو نخښنو لاندې مصدرونه تشريح کړي دي . په دې بحث کښې پښتو مصادر د نوع په اعتبار هر څلورو رازو بېل شوي دي .(۱) اصلي مصدر (۲) جعلي مصدر (۳) نوعي مصدر (۴) مزيد فيه مصدر .چې څلور واړه په خپل وار تعريف او له مثالونو سره واضح شوي دي .
د تام مصدر او ناقص مصدر تر عنوان لاندې بحث په کښې راغلے .د حاصل مصدر ليا اسم مصدر تر سرليک لاندې د اسم مصدر تعريف شوے او د حاصل مصدر بېلا بېل نخښې په پښتو کښې بيان شوي دي .
دوېمه څانګه (کړ ـ فعل) ته مختصه شوې ده .په دې بحث کښې دفعل پېژندنه شوې .مثبت ، منفي، لازم او متعدي فعلونو معرفي شوې ، بيا له لازمي فعل څخه د متعدي فعل د جوړونې د معلوم او مجهول فعل ، له معلوم نه د مجهول فعل جوړولو بيان په واضح ډول له مثالونو سره ښودل شوے دے .وروسته د ماضي فعل بيان راغلے چې ټول صورتونه ئې بيان شوي ، بيا د حال فعل تعريف شوے او بېلا بېل صورتونه ئې واضح شوي دي .وروسته د استقبال فعل بيان راغلے دے .
درېمه څانګه کښې (۲۸۲مخ) (ادوات) ليا (توري) راغلي دي .له هر څهٔ لومړے په کښې د الې توري تعريف شوي ، وروسته احتمالي توري ، استحات توري ، استدراک توري ، اتثناتوري ، استعلا توري ، استفهام توري ، استکراه توري ، اضافت توري ، بيان توري ، پلو توري ، تاثر توري ، تاکيد توري ، تانيث توري ، تحسين توري ، تحسر توري ، تحفظ توري ، د تشبه توري، تصديق توري ، تصغير توري ، تعجب توري ، تعلين توري ، تعميم توري ، د ذائقې د تقلين توري، د لونې د تقلين توري ، تکثير توري ، د تمني توري ، د تنبه او تحفيض توري ، د جزا توري، حاصل مصدر توري ، شرط توري ، صلې توري ، د مکان د ظرف توري ، عطف توري ، قبول توري ، قسم توري ، د لونيه صفاتو د تاکيد توري ، لياقت توري ، مصدر توري ، مفعول

توري ، مقدار توري ، ندا توري ، نسبت توري ، نوعي مصدر توري ، د نهي او نفي د تاکيد توري له مثالونو سره ذکر شوي دي۔
دويمه برخه په ۳۱۲ مخ کښې پېل شوې چې د نحوې بحث په کښې راغلے دے ۔او تر ۳۳۹ مخ پورې رسېږي ۔د نحوې له تعريف نه وروسته د ترکيب او د هغه په ډولونو بحث شوے دے چې په کښې لومړے ترکيبونه په (نيمګړي ترکيب) او (بشپړ ترکيب) بېلوي ۔د نيمګړي ترکيب لاندې (۱) مزجي ترکيب (اسمان کټ) او (اتباعي ترکيب تک سپين) بيان راغلے ۔دغه راز لاندې ترکيبونه هم له همدغه سرليک لاندې راوړي (۳) تصمني ترکيب (۴) اضافي ترکيب (۵) توصيفي ترکيب (۲) تعدادي ترکيب د بشپړ ترکيب تر سرليک لاندې ددې ترکيب تعريف داسې کوي : ''بشپړ ترکيبونه هغه ترکيبونه دي چې اسناد ولري او اورېدونکے سړے د استفادې لپاره بلې کلمې له ونه ګوري''
(د اسناد ، مسنداليه او مسند) له پېژندلو وروسته جمله په اسميه جمله او فعليه جمله ويشي ۔د جملې اصلي غړي او متممات بيانوي او وضاحت ئې کوي۔
د فعل ، فاعل ، نائب فاعل ، د مفعول او د هغه د ډولونو ، د ظرف زمان ، ظرف مکان ، د ظرف داداتو ، د ظرف حقيقي حکمي او مجازي پېژندنه شوې د (حال) (تميز) وضاحت هم په کښې شوے دے ۔د مستقيم او غېر مستقيم مفعول بحث نه وروسته د اصلي جملې او فرعي جملې بيان په کښې راغلے دے ۔فرعي جملې په کښې په لاندې برخو : (وصفيه ، اسنيافيه ، تعصيليه ، تمثيليه ، معترضه) بېلې شوې چې هره يوه ئې له مثالونو سره واضح او تشريح شوي دي۔ورپسې د مطلقې جملې او مقيدې جملې بيان راغلے دے۔
په درېمه برخه کښې د مصادرو بيان په ۱۵۲ مخونو کښې راغلے دے چې (۱۵۲۲) مصادر په کښې راوړل شوي دي ۔دا مصادر په ځانګړو جدولونو کښې په ګوته شوي دي ۔د مصدرونو پېل په (ل) والا مصدرونو شوے لکه :

خندل ، ژړل ، وریسي په ترتیب سره ( ول ) والامصدرونه ( کول) والامصادر ( ېدل ) والامصادر او (کېدل) والامصادر راغونډ او راوړل شوي دي[8] .

د پښتو ژبې لیار لیا پښتو صرف او نحو کتاب ځانګړنې :

د پښتو ژبې لیار د لیک ډول : ددې ارزښتناک ګرامر لیکدود د پښتو ژبې د اوسني معیاري لیک دود سره زیات توپیر نه لري . ولې بیا هم ځینې هغه توپیرونه چې په کښې لیدل کېږي په لاندې ډول ښودل کېږي .

د پښتو ژبې د الفبا د خاصو تورو ( ټ ، ډ ، ړ ) شکلونه له لاندېنو کړېو پرته په دا ډول لیکي:- (ټ) اواز ګرافیم د ( ن ) په شکل ، د ( ډ ) د اواز ګرافیم د ( د ) په بڼه ، د ( ړ ) اواز ګرافیم د ( ر ) په رنګ لیکي .

د ( ڼ ) توري د ( نړ ) په بڼه لیکي .

د ( زه ) شخصي ضمیر د ( ځه ) په رنګ لیکي .

( زموږ ) ضمیر د ( ځمږ) په بڼه راوړي .

چې په دې توګه وئیلے شو چې کله کله ( ز ) په ( ځ) سره استعمالوي .

د ( اوس ) وي په ( هوس ) او ( ارت ) لغت په ( هارت) سره کاروي . په دې معنا چې کله کله د کلمې پېل ( ا ) په ( هـ ) بدلوي .

د اوسنۍ څرګندې ( ي ) بڼه په ( ی ) اوږدې ( ې ) بڼه په ( ے ) کاروي .

(او) عطف توري د (آو) په بڼه استعمالوي ، په دې ډول کله چې زور د کلمې په سر کښې راغلے وي په ولاړ مد سره کاروي لکه : آسمان ، آرږي ، آوصاف ، آسانه .

سپه اوسني لیکدود کښې ځینې د ( بعضې په معنا) او ځنې د ( ورځخه ) په معنا په یوه بڼه (ځینې) کاروي .

هغه زیاتره کلمې چې په (ay) نرمه ( ے ) یا ے ته رسېدلي وي . د زور حرکت ئې په ښکاره (ه) سره کوي لکه د سړه ے ، نیمګړه ے ) ....

زما په اندکه دغه کلمې پرته له (ه) څخه ولیکل شي بهتره خبره ده ، ځکه د (ه) راوړل د کلمې اصلي بڼې ته زیان رسوي او شکل ئې بدلوي .

( چې ) د ( چه ) په بڼه کاروي .
( ویل ) د ( وېیل ) په شکل لیکي .
( هلک ) د ( هالک ) په ډول لیکي .
( کې ) د ( کښې ) په شان لیکي .
په کلمو کښې د ( ء ) کارول ، لکه وښئ ، ئې چې اوس مهال ئې وښیي ، ئې په بڼو لیکل کېږي .
( چاپېریال ) د ( چاپېر ) په بڼه لیکي .
" د پښتو ژبې لیار " لکزیکي ( لغوي ) اړخ : په دې اثر کښې د پښتو ژبې په سوچه لغاتو سربېره د نورو ژبو ( عربي ، فارسي ) لغات هم کارول شوي دي . د پښتو ژبې په سوچه لغاتو کښې ساده او مرکب لغتونه دواړه کاریدلي دي . په بسیطو کلمو کښې د ( اړینه ، بوبه ، چاپېر ، ځواک ، زیار ، نغرل ) په مرکبو کښې ( مچشړ ، مچ واړي ، ایرنۍ ، تودنۍ ) یادولے شو .
یو شمېر ګرامري اصطلاحات په کښې دا ډول راغلي دي : زور ( خو ځکه ی ) ، حرکات ( ځوځنده ی ) ځرنګوالی ( ځنګالی ) ، ځومره والی ( ځو والی ) .

## حوالې


۱ مومند ، محمدګل خان ، د پښتو ژبې ليار (صرف و نحو) ، بلخ ، افغانستان ، ۱۳۱۷ل / ۱۹۳۸ء کال

۲ خالد خان ، پروفېسر ، ډاکټر ، په پښتو کښې د پښتو ورومبے ګرامر ، پښتو ، پښتو اکېډيمي ، جولائي، اګست ، ۲۰۰۲ء کال

۳ رښتين ، صديق الله ، پوهاند ، پروفېسر ، د محمدګل خان مومند غمجنه مړينه ، کابل مجله پښتو ټولنه، ستمبر ، اکتوبر ۱۳۴۳ل / ۱۹۴۴ء کال.

۴ خادم ، قيام الدين ، نننی پښتو ليکوال ، پاس پښتون ، سالنامۀ کابل ، ۱۳۱۷هـ ل / ۳۹ـ۱۹۳۸ء کال

۵ مومند ، محمدګل خان ، پښتو سيند (اولين قاموس افغاني) لومړے ټوک ، کابل ، افغانستان ، د کابل عمومي مطبعه ، ۱۳۱۲ل / ۱۹۳۷ء کال.

۶ صابر ، سيد صابر شاه ، د محمد ګل خان مومند بابا ژوند پېژندنه ، مومند بابا ياد ، ساپي پښتو څېړنو پراختيا مرکز ، پېښور ، ۱۳۸۳ل / ۲۰۰۴ء کال.

۷ يون ، محمد اسماعيل ، د محمد ګل خان مومند اند او ژوند ته يوه لنډه کتنه ، يون کلتوري يون ، ۳۸۷ل / ۲۰۰۸ء کال

۸ مومند ، محمد ګل خان ، د پښتو ژبې ليار ، بلخ ، افغانستان ، ۱۳۱۷ل / ۱۹۳۸ء کال.